(۶)
9/1968

ښکلا

ددې ګڼې مضامین

پنځوس کاله د آزادۍ په رڼا ۱ مخ
خپلواکی ۲ «
دمیوند دغزا یادونه ۳ «
دافغان او انګلیس... ۹ «
دنوی افغانستان هڅی ۱۲ «
تابوت او ډولۍ ۱۳ «
دادب وږمې ۱۴ «
خپلواکی دځوانانو ۱۹ «
دخپلواکی په .. ۲۰ «
دخندا پلوشی ۲۲ «
دنن ورځی وفلسفی ته ۲۵ «
دآزادی درس ۲۷ «

اعلیحضرت شهید محمد نادرشاه غازی
دخپلواکی دبیرته اخستلو دمعرکی ستر قهرمان

۱۳۴۷
۲ سنبله
(۶)

حریت

دمجنون ژوندون به څه وی چی لیلا مری
څه په کار دی تش کالبد چی زړه دچا مری
زړه ډېوه ده دا د خټو په قالب کی
خدای ومه کړی چی به دا ډېوه دچا مری
چی مرغه ولاړ سی قفس د ماتېدو دی
که به زړه مری تش کوګل دی لاپخوا مری
هیڅ ممکن نه دی پایښت د هغه پېری
زړه چی مری کالبد مجبور دی خامخا مری
حریت د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه وی هم ملت مری هم بقا مری
چی د بل د اسارت په لومه اړ شی
په هغو زړو کی غیرت، خودی، غنا مری
[رشاد]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
S CONTINUATION 6

زموږ محبوب ټولواک همایونی اعلیحضرت د خپلواکی
سترحامی چی ددوی دزمامداری په روښانه
دوره کی زیات وړاندی تګونه
دهیواد په نصیب سویدی

LIBRARY OF CONGRESS
MAMPAD / FRUS
19 MAR 2005
S CONTINUED

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د وږی میاشت

پنځوس کاله

د آزادۍ په رڼا کی

افغان بهادر قوم چی
آزادی یی په خټه کی اخښلی
شوی ده دغربی امپریالیزم
سره چی د پښتون خواپا کی
خاوری ته داستیلاستر کی
نیولی وی تر پوې پېړۍ
سختو مبارزو اوقهرمانانه
مجادلو وروسته و کولای
سوای چی داستعمار تېرې
منګولی نه تنها د خپل
ګرېوان څخه وکاږی .

بلکی د لومړی ځل
د پاره ئې داستثمار تور دیب
په شرق کښی د شکست سره
مخا مخ کی .

او دا د استعمار هغه تاریخی
ماتی ده چی د هندوکش د
لمو نو څخه شروع کیږی او
پر کانال سویز باندی د
اقتدار جنازه د اسیا د
آزادۍ د نهضتو په زور سره
وایستل سوه .

یعنی په دې حساب افغانستان
نه یوازی د استعمار له منګولو
څخه د خپلی خاوری د آزادۍ
افتخار لری بلکی د
آسیایی او افریقایی
هیوادو د آزادۍ د نهضتو او د
شرق څخه د استعمار په کړه
کولو کی هم لوی لاس لری تر
سلو کالو مبارزو وروسته موږ
د اتوفیق پیدا کړی چی د ډېرې
خواد خپلو تیرو فرصتو د لاسه
وتلو د مافات تلافی وکړو او په
عین حال کی دا اجبار هم موجود
ووچی د عصر او زمان مقتضیاتو
ته هم پوره جواب ووایو .

یعنی موږ د دوو مسئولیتو
سره مخامخ وو .

د یوې خوا د ګذشته تلافی د
بلی خوا د حال او آینده د ضرورتو
تکمیل البته د ملی ټینګی ارادی
په رڼا کی ډېر ناممکنات د تسلیم
سربه دی .

خو موږ هم وکولای سوای
د مدبرو پیشوایانو په حکیمانه
لارښود نه سره د یوه نوی
افغانستان زیربنا کښېږدو او په
دی پنځوس کاله کښی د موږ ته
میسره شوه چی د ژوند بیلی بیلی
مرحلی یو په بل پسی ووهو او خپلی
ورانی او وجاړو ته تر یو حده سر
او سامان ورو بخښو .

لکه څر نګه چی
اعلیحضرت شهید سعید د
خپلوا کی د معرکی ستر
قهرمان دی همدغه رنګه
د خپلوا کی د بیرته اخیستلو
وروسته د نوی افغانستان
د زیربنا بنسټ ایښو نکی هم
دی چی د دوی په مدبرلاس
سره په هیواد کښی د یوه
پارلمانی رژیم بنسټ
کښېښود ل سو او بدې توګه
ئې د هیواد تشکیلاتی تنظیم
منځ ته راوړی .

عرفانی اساسات او
عمرانی تاسیسات اقتصادی
تنظیم د دغه خدای بخښلی د
څلور کلنی زمامدرای ستری
نخښی دی .

خو کله چی د دغه ملی قائد
ستر خلف اعلیحضرت معظم
همایونی د مملکت چاری
په خپل با کفایته لاس کی
واخستلی د خپل محترم سلف
د خط مشی په تعقیب د
افغانستان د انکشاف
تکاملی سیر ته زیاته چټکتیا
ورکړه .

او د ژوند په چارو کی یو نوی
تحول او تبدیل د ورا محسوس
شو او د شاهانه مبارک ذات
په حکیمانه لارښودنه ګران
وطن افغانستان یو په بل

پسی د تکامل پړی ووهلی څو د هیواد د نوی انکشاف په لاره کی د یوه نوی ګام د اخیستلو د پاره استعداد پیدا سو او د ۱۳۴۳ کال د نوی اساسی قانون په انفاذ سره ملت د ژوند و یوې جدی مرحلی ته داخل سو .

د حکومت او سلطنت انفکاك د یوې ملی مقننه قوی تشکیل د مستقلی قضایی قوی منځ ته راتلل د اقتصادی زیربنا لومړنی اساسات ایښودل هغه شاه کار ګڼل کیږی چی موږ ته د یوه ښه او مرفه ژوند د رسیدلو په لاره کی زیات امکانات برابروی .

افغان ولس د خپل محبوب قاید تر حکیمانه هدایاتو لاندی لکه څنګه چی د تاریخ په بیلو بیلو د ورو کښی د ازموینی سختی مرحلی تیری کړی دی هیله سته چی نن هم د ملی تاریخ دانوی مرحله د سالم حرکت د لاری څخه په بری سره پای ته ورسوی .

او د خپلواکی په رڼا کی چی د ملی ژوندانه د تنظیم د ښه کولو وسیله ده او چت ګامونه پرمخ واخلو او د سیاسی آزادی په اړخ کښی اقتصادی آزادی هم تامین کړو .

ځکه تر څو چی اقتصادی خپلواکی تامین نسی سیاسی آزادی نیم ګړی ښکاری .

په پای کی د آزادی د معرکی د ستر قهرمان پاك روح او د آزادی د لاری د شهیدانو او روحونو ته درود استوو او د ګران افغانستان ترقی د همایونی اعلیحضرت تر سیوری لاندی استدعا کوو .

عبد الصمد «فدا»

خپلواکی

نیمه پیړی پخوا افغان ولس د خپلو غښتلو او توریالیو مشرانو او پر خپلواکی مین ټبر په موټ او قوت د ګران هیواد د آزادی د بیرته لاس ته راوستلو لپاره د لویدیځ لوری د استعماری طاقت «انګلیس» په مقابل کی د هیواد په سرحداتو کی ورسره وجنګیدل څو هغه ؤ چی پدې ملی مبارزه کی د افغان ولس بریالیتوب او کامیابی په بر ه شول او خپلو غلیمانو ته ئی داسی مانی او شکست ورکړ چی تر اوسه پوری له هغوی سره د افغان ولس د توری د مقابلی خاطره موجوده او شته .

د خپلواکی تر حاصلولو وروسته افغان ولس د خپل هیواد د پرمخ تګ او ترقی لپاره په تیره نیمه پیړی کښی په زړه پوری کارونه کړی دی او د ژوندانه په ټولو چارو کښی لکه اقتصادی ، علمی ، فرهنګی سیاسی ، او اجتماعی یوروڼ بدلون او تحول راوستی دی .

نن چی د ګران هیواد د آزادی څخه پوره پنځوس کاله تیر سویدی نو خود به دا ؤلس د زړه له کومی خوشحاله او مسروروی چی پدغه دونه مده کی د لوی خدای (ج) په فضل زموږ خپلواکی او تمامیت ښه حفظ اووساتی .

نو لدی وروسته هم زموږ د افغان ولس وظیفه ده چی د خپلی آزادی او خپلواکی د ساتلو لپاره د تل د پاره سره یو او متحد شو او کوښښ وکړو چی دغه ګټل شوی نعمت لکه څنګه چی زموږ تیر شوی ؤ افغانانو په خپلو وینو باندی لاسته راوستلی دی موږ ئی هم په خپلو سرونو ، مالونو ، او په هر راز مادی او معنوی وسایلو سره خوندی کړو .

مرحوم والاحضرت سپهسالار غازی شاه محمود
خان د پیوار فاتح

د کابل فاتح والاحضرت مارشال شاه ولی خان
غازی چې د خپلوا کۍ د بیرته اخستلو په معرکه
کې نه هېرېدونکې مړانه ښکاره کړیده

د محمد یوسف (پښتون) ترجمه

د میوند د غزا یادونه

دافغان ملت د مشهورو جګړو څخه چې د خارجي تیري کونګو په مقابل کې مخصوصاً د انګلیس د استعماري حکومت سره کړې ده یوه هم د میوند مشهوره غزا ده چې د غازي سردار محمد ایوب خان په مشرۍ د ۱۲۹۷ هـ ق د شعبان د میاشتې پر ۱۷ چې د ۱۸۸۰ عیسوي کال د جولای (۲۱) کیږي وسوه دا مشهوره غزا د میوند په دښت کې چې د کندهار د شمال غرب په ۶۰ کیلو متري کې واقع دي ونښته.

دامیر محمد یعقوب خان د خلع کیدو څخه وروسته چې د انګریزانو په واسطه وشول او مخصوصاً د کابل د بالا حصار د نړیدو څخه وروسته چې افغانانو د ویاړنې د اثارو ځانګو وه د کابل اوضاع د انګریز د استعماري حکومت په مقابل کې برخلاف واوښتل او کرار کرار د وطن خواهي حرکات د هیواد هر لور ته تېت شول مخصوصا هغه وخت چې د (اردل خان) فوج قتل عام شو جنرال خسرو خان محمد اسلم خان کوټوال سلطان عزیز خان د محمد زمان خان زوی د هغو مجاهدینو د جملې څخه وه چې ځانونه ئې د وطن او خاوري د خپلوا کې د بیرته اخیستلو د پاره قربانۍ کړل (۱) محمد جان خان وردګ د کابل او غزنۍ په علاقه کې، ملا دین محمد مشهور په ملا مشک عالم او ملا عبدالغفور لنګري د غزنۍ او قندهار په علاقه کې کندهاري وطنخواهانو په زمین داور کې او کوهستانۍ وطنپرستانو په کوهستان کې د پردو په مقابل کې سر ښندنې او جانبازي شروع کړې. په کابل کې د پغمان، قرغې او چهار اسیاب خلګو هم د خپلو نورو افغاني ملګرو په ملګرتیا د وطنخواهي حرکات شروع کړل.

حتی سپین ږیرو او ښځو لا پدې ملي قیام کې برخه وا خیستل چې ځینې ئې زخمیان او ځینې شهیدان سول (۲) تقریباً د هیواد په هر ګوټ کې همدغه قسم حرکات شروع وه تا به ویله چې د افغان لوی ملت د یوې لږې مودې د پاره د پردو د زور په سبب ټکر ټکر سوی او بېرته ئې فرد فرد لاس سره ورکړی دی چې په ګډه غواړي ولویدیځ استعمار ته یو بل نه هیریدونکی درس ورکړي او پدې ډول د خپلو نیکګانو او پلرو مځکه د دوی د ناپاکه قدمو څخه پاکه کړي.

لکه چې وویله شوه د مملکت په هر ګوټ کې هر قوم او قبیلې غوښتل چې

(۱) افغانستان په ۱۹ پیړۍ کې تالیف د سید قاسم رشتیا ص ۲۵۱

(۲) سراج التواریخ دوم جلد ص ۳۵۸

پدی ملی جهاد کی برخه واخلی ، لکه څرنګه چی سردار محمد ایوب خان غازی د خپلو عسکری قواوو سره د همدغه مقصد د پاره د هرات د ښاره څخه د کندهار پر لوری را رهی او د فراه او ګرشك تر تیریدو وروسته و کشك نخود ته نژدی د میوند و دښت ته راورسیدی (۳) د انګریزانو قواوی د جنرال بوروز (BOROUZe) په مشری او د نوروخائنانو په ملګرتیا د سردار محمد ایوب خان د مقابلی د پاره د میوند پر خواور روانی سوی .

ښاغلی سردار محمد ایوب خان د میوند ننګیالی فاتح

د دواړو خواوو د قواوو اندازه:

که څه هم د دواړو طرفو د قواوو شمیر د کوم موثق ځای څخه تر اوسه پوری په لاس ندی اغلی ، خو یوی انګلسی مجله چی په لندن کی نشریږی او سولجر (SOLDIER) نومیږی داسی احصائیه ورکوی:

اول :- انګریزی قواوی: (۵):

۱- د ۴۹۰ نفره شاهی توپچی او شپږ ټولی سپاره .

۲- ۵۵۰ نفره د بمبئی اوله درجه ټولی چی په لاسی بمب اچولو او تن په تن جنګ کی ئی زیات مهارت درلودی .

۳- ۵۵۰ نفره توپك والا چی د (جیکب) په نامه مشهوره وه او د بمبئی د (۳۰) لمبر قواو تکړه ټولی وه .

۴- ۳۰۰ نفره د بمبئی د (۳) لمبر قواوو د سپکو ماشیندارانو یوه دسته .

۵- تقریباً د (۲۰۰) تنو په حدودو کی سیندی سپاره اضافه پردی شپږ افغانی (٦) توپونه چی د یاغیانو څخه په غنیمت وړول شوی وه او یوه دسته استحکام او فنی ټولی هم د دی قوی ملګری کوله .

(۳) افغانستان په ۱۹ پیړی کی ص ۲٦۰

( ) پورتنی کتاب او هغه صفحه .

(۵) ښاغلی سید قاسم رشتیا د افغانستان په ۱۹ پیړی په ۲۸۱ صفحه کی د انګریزانو قوه یوه فرقه ویلی اما په پورتنی مجله کی غنډئی دوه زره نفری قید کړیدی .

(٦) باغی افغانی قوه یوه اجنبی اصطلاح ده باید هغه افغانی ملی مجاهدو ویل شی .

دوهم:-افغانی قواوی:

۱- ۶۰۰۰ نفره منظم عسکر چی دامیر محمد ایوب خان سره د هرات څخه راغلی وه .

۲- په حدودو کی د ۳۰۰۰ تنو غیر منظم قبایلی غازیان چی اکثره ئی په سوټی او خورد م مجهز وه .

۳- ۲۰۰ نفره د کندهار پاشلی قواوی چی د کندهار تر اشغال وروسته ئی ځای نه درلودی چی ولاړ شی .

یادونی :- لکه چی د مخه وویله شوه پورته احصائیه د دیریك فیلپس دیوی انګلیسی سولجر نومی مجلی څخه اخیستل شویده (۷)

دقواؤ مقایسه :-

۱ - افغانی قواوی د درودستو څخه چی پیاده سواری او یوه برخه ئی تو پچی وه تشکیل سوی وی په داسی حال کی چی د انګریزانو قواوی د پیاده، سواری او توپچی برسیره ئی د لاسی بمب داچولو نیزه وهونکو (د تن په تن جنګ د پاره) جیکب توپك والا او د استحکام دستی چی خورا منظمی وی هم درلودی .

۲- که څه هم د سردار محمد ایوب خان منظم عسکر (۶۰۰۰) ښودل سوی دی یوازی بیا هم ډیر ښکاری ، ځکه که تنها ه دده منظمی قواوی (۶۰۰۰) وای ددی ټول مملکت قواوی باید خورا ډیری وای او د انګریزانو مخ ئی ژر راګر ځولی وای

او هم د بله طرفه د انګریزی مخصوص سیاست په سبب ملی مجاهدین او منظم عسکر هیڅوقت په ګډه او په صحیح صورت ندی جنګیدلی

ځکه د انګریزانو استعماری حکومت به تل ددوی په منځ کی تر جنګ د مخه په حساسو مواقعو کی نفاق او جنګ اچاوه که د اسبیونه موجود

نه وای د انګلیس حکومت که هر څونده هم مجهز وای زموږ وطن ته نه شوای راداخلیدای او باید د انګریز د استعماری حکومت حمله

په اولنیو مراحلو کی د شکست سره مخامخ سوی وای لکه چی د افغان او انګریز په دریم جنګ کی چی افغان اولس ګرده تر یوه بیرغ لاندی متحد وه او

په یوه امر جنګیدل دا موضوع په ثبوت ورسیدل او د انګریز استعماری قواوی سربیره پردی چی د وطن وخاوری ته راداخلی نه شوی

بلکه پرشاولاړی او د قطعی شکست سره مخامخ شوی .

د قواؤ قوماندانان او رهبران :

په انګریزی قواو کی : جنرال بوروز (BOrOUZe) د قواو قوماندان او (ډګرمن کالبریت) په افغانی قواؤ کی :- سردار محمد ایوب خان د قواو قوماندان او عبدالغفور خان هراتی برګیډ ، محمد انور خان کندهاری کمیدان محمد زمان خان بارکزی او زړه وره پیغله ملالی چی د پښتنی پیغلو د پاره ئی د قهرمانی داستانونه پریښودل .

دجګړی میدان

انګریزی قواوی د جنرال بوروز په مشری پداسی حال کی چی د موزیك دسته ئی نظامی مارش ږغاوه، او

---

(۷) دغه مضمون د ۱۳۳۹ کال دارد و د مجلی د کلکسیون په یوه شماره کی ژباړه او خپور شویدی .

پښتنی قواوی دسردار محمدایوب خان په مشری پداسی حال کښی چی د (الله اکبر) ناری ئی غوږ و ته رسول کیدی یود بل لوری ته ور روان وه او پرمخ سره راتله خود ۱۲۹۷ هـ،ق، کال د شعبان پر ۱۷ چی د ۱۸۸۰ عیسوی کال دجولای ۲۱ وه دسهار پر لس بجی دواړی قواوی سره مخامخ شوی، پدی وخت کی دموزیك مارش چپ سو اماد الله اکبر نارو نور هم شدت پیدا کړ.

دواړو قواو خپلی جنگی کرښی اشغال او مخامخ شوی لیکن هغه لویه واله چی دانگریزی قواو ومخ ته تیره شوی وه او انگریزی قواوځان ته سنگر ځنی جوړ کړی ؤ دافغانی قواود پاره ئوی مانع وګرځیدل (٦٦) لمبر د بمبئی مشهوری توپ ددی ولی محافظه کوله.

ددښمن پیاده عسکرو په دوه قطاریزه ډول دجبهی کرښه سر تر سره اشغال کړه پداسی حال کی چی د (٦٦) لمبر قواو د خوا څخه ئی راسته خوادغازیانو دحملی څخه ساتل کیدل.

پدی وخت کی د دواړو خواو توپخانو خپل اور بل شروع کړ.

(دیریک فیلپس) لیکی چی: (دافغانانو دتوپخانی قوت او د عسکری افسرانو د تسر انگریزانو ډیر غښتلی وو) لیکن زما په عقیده دایوه اشتباه ده، انگریزان غواړی چی ددغو پلمو په ذریعه دنړی والو عامه افکار واړوی او دوی وخپلو استعماری عملیاتو ته خوشبین کړی.

اوپدی ډول خپل تجاوزات چی د افغان ملت پر مسلم حق باندی ئی کړپدی پټ وساتی، زه عقیده لرم چی د حرب دتاریخ دلیکنی په وخت کی لیکونکی باید کاملاً بی طرفه وي اود انگریزانو درواغ د لته معلو میږی چی پښتنو په هغه وخت کی پدی اندازه توپونه چی په تعداد کی دانگریز تر توپوزیات دی نه درلودل، ځکه چی په هغه وخت کښی افغانستان کومه منظمه فابریکه دحربی سلاح د جوړولو دپاره نه درلودل او هغه تعداد چی موجودوه خورازاړه وه.

(۸) اویاهغه توپونه وه چی دډیر عمر څخه دشخړو په دوران کی ئی د انگریزانو څخه په غنیمت اخیستی وه چی هغه هم د انگریز د شپږ ټولیو په پیمانه وه او نه افغانستان به هغه وخت کی منظمی دتوپ جوړولو فابریکی درلودی چی هرګړی ئی پر توپونو باندی اضافه کولای.

په بل ځای کی (دیریک فیلپس) لیکی چی: (دسردار محمدایوب خان دقواو اوضاع دمیوند په جنگ کی دا ښکاره کول چی قواو یه عصری او اروپائی سیستم جنگ کاوه).

داهم دنوموړی لیکونکی یوه اشتباه وه ځکه اروپائی اوعصری سیستم دافغانانو په جنگ کښی د افغان او انگلیس تر دریم جنگ پوری په هیڅ ځای کی نه دی استعمال شوی.

او هم افغانی قواوی چی نوموړی لیکونکی: [منظمی قواوی] یادی کړیدی نه دی بلکه دپردو هره پلاتیریودې خلکو ته تجربه او دعصری جنگ طرز ورزده کړی ؤ.

---

(۸) د ۱۹ پیړی په اخیر او دشلمی پیړی په شروع کی یعنی دامیر عبدالرحمن خان دسلطنت په دوره کی دکابل په ماشین خانو کی توپونه جوړیدل چی مشهور د عبدالرحمن خان په توپو سره وه او اوس هم خوعرادی محدود توپونه سته اما په خواتر هغه فابریکی پداسی فعالیتونو اقدام نسو کولای.

په ښرر راوستلی دی، له څنګه چی په خپله دغه لیکونکی لیکی :

(هغه غازیان چی د مذهبی تعصب په اساس جنګیدل اودی حس بالکل لیونی کړی وه خووارې په خپلو تورو اوچړو زموږ د جبهی پر لمړنیو کر ښو حملی راوړی لیکن د توپچی دقواوو اود توپکو ددسته جمعی اور په اثر د دوی حملی تر شا و تمبدلی شوی...)

لنډه دا چی جګړه په خوراشدت روانه وه اوهر طرف کو ښښ کاوه چی مقابل طرف ته ماتی ورکړی .

پدی وخت کی دمیوند څخه دافغانی قواوو حملو ددښمن قواوی چی د نوموړی کلی ترغونډی لاندی وی مضطربی کړی او تقریباً یوه ټولی عسکر ئی په دی حملو کی د پښو واچولی .

پسله غرمی ددوو بجو په حدودو کښی د « جیکب » مشهوره توپکوالی قواوی چی د جګړی په لمړی صف کی واقع وه د افغانی قواو د حملو په مقابل کی اضافه مقاومت ونه شو کړای او پر شا تګ ئی شروع کړ ، فیلپس د مضمون لیکونکی لیکی :

(غازیانو په سپر، نیزو، تورو اوچړو هری خواته حملی کولی چی د جنګ پر بیریدونکی صحنی ئی اضافتوب کاوه انګریزی قواوی ئی ډیری پریشانی کړی .

د لیکونکی پورتنی جمله دا موضوع چی افغانی قواوی لږ اوفقط په جاز حه سلا حو لکه توره، سپر، نیزه مجهزوه تصدیقوی او که فرضاً افغانی قواوو توپچی قواوی درلودلای نو تورو نیزو ته څه ضرورت ؤ .

کله چی انګریزی قواوو خپل شکست حتمی ولیدی نو ئی د پرشا تګ لاره غوره کړل او ځان ئی د کندهار ولوې لاری ته برابراوه لیکن افغانی سپرو په ډیره میړانه دوی تعقیب کړل .

څرنګه چی دا تعصب غیر منظم ؤ دوی پخپله ځان ددښمن د ګولی په خوله ورکی او خورازیات تلفات ئی ولیدل، لیکن پښتنی غازیانو د تعقیب څخه لاس وانه خستی، او په همدغه تعقیب کښی زیات شمیر انګریزی افسران لکه ډګرمن ګالبریټ او نورافراد ئی ووژل شول څو بالاخره انګریزی قواوی دلوی شکست سره مخامخ شول او تعقیب د کندهار دښار تر استقامت پوری ادامه درلوده .

وژل سوی کسان :

دیریك فیلپس د یوه انګریزی افسر دخولی څخه چی هغه دیوه افغان صاحب منصب څخه اوریدلی وه د (٦٦) نمبر د پیاده قطعی په باره کی لیکی : .

(٦٦ لمبر قوا دافغانی مجاهدینو د خوا څخه محاصره شول او تر هغه و خته و جنګیدل چی فقط یو ولس نفر د ئی پاته وه او تر څو چی ئی جبهه خانه خلاصیدل دی یو ولسو نفرو زیات تلفات و افغانی قواو ته ورسول څو بالاخره هغه هم ووژل شول) .

نوموړی لیکونکی د انګریزانو دغه تلفات پدی جنګ کی غیر له ورك شو و څخه شل نفره افسران او «۱۸۰» عسکر ښئی ، لیکن یو بل انګریز لیکونکی چی (میجر منفورډ) نومیږی پخپل کتاب کښی چی (د خوسپرو سره د کابل په لوری) نومیږی لیکی چی : په ۱۹ پیړی کی (د میوند جنګ د برتانیی د حکومت پوره ماتی ده) .

سید قاسم رشتیا د (افغانستان درقرن نوزده) د انګلیسو مؤلفینو د خولی څخه لیکی چی :

دمیوند په جنګ کښی د انګریز، نو تلفات ۱۱۳ نفره او ۱۰۰۰ دانی توپک دی نو موړی دافغانانو تلفات ۱۶۰۰ تنه لیکی (۹)

ددواړو خواوو دقوماندانان چی پدی جګړه کی مړه او شهیدان شوی دی عبارت دی د جنرال بوروز او ډګرمن کالبرټ انګریزی قوماندانان، او برګیټ عبدالغفور خان هراتی، محمدانور خان

کمیدان کندهاری محمدزمان خان بارکزائی چی دشرافت د خوندی کیدو او د افغانستان دملت دخپلواکی په لاره کښی ئی ځانونه شهیدان او قربانی کړی دی.

هغه څه چی دیادونی وړ ده ددی مشهور جنګ دمهمو واقعو څخه دافغانی پیغلو او میرمنو ګډون دجنګ په میدان کی دی، دافغانی ښځو یووار بیاعملی امتحان ورکی او دائی ثابته کړل چی پښتنی میرمنی په هروخت کښی د خپلو نارینو سره اوږه پر اوږه ولاړیدی که څه هم د جګړی میدان وی.

(۹) افغانستان په (۱۹) پیړی کښی د (۲۶۳) صفحی پاورقی.

پیغله ملالی ددی جنګ د مشهور وقهرمانانو څخه ده، ددی جانبازی او مېړانه چی څنګ پر څنګ د افغانی ځوانانو سره دمیوند پر ډګر جنګیده وافغان ملت ته دفرانسی دژاندارګ او دالجزائر د جمیلی په اندازه شخصیت او اهمیت لری.

او همدغی فداکاری مړنی پښتنی پیغلی دمیوند په میدان کی ویلی دی چی:

که په میوند کی شهید نه شوی خدای ږو لالیه بی ننګی ته دی ساتینه

نتیجه :-

۱- دشرق او غرب د مؤرخینو او مؤلفینو تر منځ ددواړو خواو دقوتو په باره کی ډیر لوی اختلافات موجود دی.

مثلا ښاغلی سیدقاسم رشتیا دانګریز دقواوو تعداد یوه فرقه ګڼی، په داسی حال کی چی د دیریک فیلپس فقط دوه زره نفری غنډ بللی دی.

۲- دیریک فیلپس افغانی قواوی ۹۰۰۰ تنه منظم عسکر او قبایلی ښوولی دی چی یوه معلومه مبالغه ده، مخصوصاً دده مبالغه دده دهغه راپور څخه معلومیږی چی شپږ زره منظم روزلی عسکر لیکی:

۳- که موږ (دیریک فیلپس) پر لیکنی فرض کړو چی، وایی: افغانی قواوی (۹) زره نفره او انګریزی قواوی فقط ۲۰۰۰ نفره دی داسوال پیدا کیږی.

پداسی حال کی چی داجانب تشکیلات مکمل هم وه نو (میجر منفورډ) انګلیسی ولی دا شکست (په ۱۹ پیړی کی برتانیی پوره ماتی) بللی ده؟

۴- دیریک فیلپس پخپله دافغانی قواوو دافرادو حملی دچړو، تورو او سپرو پذریعه ښئی، او حتی وایی چی داحملی د انګریزی توپخانی دشدید اور په قوت بیرته شاته ووهلی شوی.

نو که افغانی قواوی لکه څرنګه چی دی وایی په عصری توپخانه مجهزی وای نو موږ څه مجبوریت درلود چی په چړو، تورو، نیزو او سپرو سره پر دښمن حمله وکو؟

د پورتنی موضوعاتو دتجزئی او تحلیل څخه دا نتیجه اخیستلای شو چی افغانی، مېړنی، جنګیالی وطن پرستانو فقط په چړو، تورو، نیزو، سپرو او سوټو وانګلیسی منظمو او عصری قواوو ته چی دقوت او تعداد له حیثه ئی زیاته برتری درلوده.

د افغان او انګلیس په لومړی جګړه کی هغه مهال چی افغانی فاتحین انګلیسی متجاوزین د کابل له درو څخه شړی

د میوند په میدان کی داسی سخته و تاریخی ماتی ورکړه چی دانګریز دولت چی قطعاً ئی په خپل ضعف اعتراف نه کاوه هم دا په ۱۹ پیړ کی د کاملترینو ماتو څخه ئی په اسیا کی وباله .

دخدای (ج) رحمت او درود دی وی دهغه وطن پرستانو او ملی مجاهدینو پر روح چی دخپل سر په ښندلو ئی دافغان ملت پت ساتلی او د تاریخ په اوږدو کی ئی خپل آزاد بیرغ هیڅ وخت د پردو ترسلطی لاندی ندی پرې ایښی .

افغان ملت د نوموړو دمېړانی په درناوی او ددی لویی تاریخی فتحی په یاد په ۱۳۱۰ هـ، ش موافق د ۱۳۴۹ ق، کال چی مطابق د ۱۹۳۰ عیسوی کال سره شی دمیوند په تاریخی میدان کی جګ څلی د «منار یادګار» په نامه جوړ کړ چی دهغه د بنسټ تیږه داعلیحضرت شهید سعید (رح) محمد نادرشاه غازی له خوا کښیښودل شوه همدارنګه د معظم ټولواک همایونی اعلیحضرت په ځلانده دوره کی د کابل په لوی واټ کی منار جوړ شو چی هغه د (جاده میوند) په نامه یادیږی .

د افغان او انګلیس لومړی جګړه

وروسته تر هغه چی داعلیحضرت احمدشاه بابا زوی اعلیحضرت تیمورشاه په کابل کی مړسو نو دزیات شمیر زامنو ترمنځ ئی د افغانستان پر امارت دعوی شروع شوی چی هغه په محلی جګړو بدلی شوی او دغه وخت په دوران کی چی انګلیسانو په هند کښی انکشاف کاوه دلته دداخلی جګړو اورلمبی وهلی .

د ملالی په یاد

دسدوزو د کورنۍ وروستی پاچا شاه شجاع چی دوروڼو له خواله افغانستان څخه وتلی او له دباندی څخه ئی د افغانستان د پاچاهی د تخت دبیرته نیولو لپاره فعالیت کاوه، نو دانګلیسانو له پاره افغانستان ته دداخلیدو ښه پلمه پیدا شوه .

دوی شاه شجاع دی ته تشجیع کړ چی افغانستان پر تخت بیا جلوس وکړی خوادا بدمرغی څپی وهلی پاچا دلته نه یواځی دخپلی کورنی له خوا مطرود شوی ؤ بلکه دسردار پایندخان بازکزی د کورنی څخه دسدوزو وزیران او نائبان هم ځینی ناراضه وه او تر دا ټولو چی دده دچپه کیدو باعث ګرزیدل هغه عام ولس ؤ چی دی یی دخپل لوی دښمن (فرنګی) ملګری باله .



دمیوند منار

د ۱۸۴۹ کال دا پریل میاشت وه چی شاه شجاع دیوه بریتانوی لښکر سره کندهار ته راداخل شو او دلته ئی جلوس وکړ، دافغانستان

ټول خلک پدغه وخت کی دشاشجاع لدغه حرکت څخه ناراضه شوه .

څو انگریزی لښکر په کندهار کښی تریوځه تم وروسته دکابل دنیولو له پاره دغزنی خواته روان شو ، دی لښکر په چم او خم د پښتنو له قبیلوی روابطو څخه په استفاده ددی امکانات برابر کړل چی دغزنی والی

غلام حیدر چی د امیر دوست محمدخان زوی ؤ د هغه ذکا کا دزوی عبدالرشید خان په وسیله ووهی پدغه کارکی بریالی هم شوه او غزنی ئې ونیوی .

دغزنی ترنیولو وروسته دا بیگانه خلک کابل ته ورسیدل او هلته امیر دوست محمد خان کابل ور- پریښود اوبخارا ته ولاړ او دا نو د۱۸۳۹ کال داگست ٦ ورځ وه چی برېتانوی لښکر

کابل ته ننوت او شاه شجاع ئې هلته په بالاحصار کی د هغه سره مخمل پر تخت کښناوه چی دده اسلاف امیران پر هغه کښیستلی وه .

پدغه وخت کی دانگلستان سفیر چی د انگلستان د خارجه وزارت یو ورزیده مامورؤ او میکناټن نومیدی دده داړخ سره کښینوست اوسیاسی اداره دانگلیس یوه لجوج اوسرسخته مامور «برنس» په لاس کی واخیستله .

دافغانستان ولس چی متواترو داخلی جگړو او کشت ؤ خون ستړی کړی ؤ نو په لومړی ځل کی ئې زړه پدی ارام شو چی دهیواد اداره پریوه پاچا راټوله سوه خو کله چی ئې ولیدل چی دا اداره دیوه اجنبی قوت په لاس کی ده نو په ناچاری سره ئې بیا لاس کړ او توره ئې له تیکی را وایسته .

دشاه شجاع په دوره کی دفرنگی اداره چیانو اولښکرو ډېری ناخوالی اوظلمونه وکړل څودهغه په عکس العمل کی دامکانات پیداشول چی یوجنبش پورته سی .

ددغه وخت په درك دهغی ورځی دافغانستان دختیځی خوا پښتنی اقوامو داپریدی اقوموادمبارزی په بدرگه او په جنوب لو پدیځ افغانستان کښی نورو پښتنی اقوامو دبغی او سرکښی هنگامه خپره کړه .

ددی اورلمن ډېرژرهرې خواته خپره شوه څودشمال له خوا امیر دوست محمدخان له خپل ننگیالی زوی (وزیر محمداکبرخان) په ملگری افغانستان ته راداخل شو .

دوی دهغه ځای اقوام پرځان راټول کړه او پرکابل راروان شوه ، دوی دانگریزانو سره په لومړی مخامخ کیدو کی کامیابه شوه خودایو ډېر کوچنی جنگ ؤ .

ددی جگړی په تعقیب انگلیسانو خپله تیاری په پروان کی ونیوله .

دپروان په جگړه کی سره لدې چی دانگلیس عسکر پوره مجهز وه خو پښتنو هغو ته ماتی ورکړه .

دغه جگړه نودافغان اوانگلیس دلو پی جگړې لومړی بخر کی ؤ چی داستعمار لوی موجودیت ته ئې اور ورواچاوه اودا ورځ نو په تاریخ کی د۱۸۴۱ کال دنو امبر دوهمه وه .

دکټلی جگړې په پای کی پوه داسی واقعه پیښه شوه چی دغلطی اطلاع په ډول امیر دوست محمدخان ته دځان دتسلیمی سودا پیښه شوه اوپداسی حال کی چی څوك خبر نه وه په بالاحصار کی ئې ځان

دانګلیس سفیر «میکناټن» ته وسپاره او هغه هندوستان ته ولیږی .

د انګلیس دغه سفیر په هغه لیک کښی چی د برېتانوی هند وایسرای ته ئی لیکلی دی دده تعجب دو را څرګند وی .

دامیردوست محمد خان ترلیږلو وروسته دلته حالات ورو، ورو خرابیدل څو دکابل په منځ کښی بلواشروع شوه اود «۱۸۴۱» کال د نوامبر په دوه ویشت وزیر اکبر خان کابل ته ورسید .

دکابل په بلوا کی دانګلیسانو لوی نظامی اوسیاسی سړی کرنیل (لارنس) ووژل شو .

دکابل ښار کوڅه په کوڅه وجنګیدی اود هغه وخت دوولویو شخصیتونو عبدالله خان اچکزی اونائب امین الله خان لوګری او نورو شخصیتونو چی ددغه جنبش رهنمایان وه دافغانستان دبزمه ډکه مبارزه ئی ښه توده وساتله څو غازی عبدالله خان اچکزی په دغه واقعه کی شهیدشو .

میکناټن چی تردغه شکست وروسته دافغانستان څخه دانګلیس دوتلو هری فیصلی ته حاضرؤ، خو زړه ئی نه صبریدی اود موقع په انتظار ئی دفرنګی دهغه لښکرانتظار ایستی چی له کندهاره کابل ته ورسی .

دغه لښکر ونکړای شوای چی هلته ورسی اوله لاری وګرزید .

په دغه وخت میکناټن دپیسو اور شوتو په تیتولو پیل وکړ څو پدی کار کښی موفق نسو او بالاخره ئی توطئه رسوا اود افغانی مبارزینو په سوک ئی خوله ماته او پردغه سیمه ئی د ژوند سره وداع وکړه چی موږ ئی د ننګیالو د کارنامو افتخار ساتو .

د «۱۸۴۲» کال دجنوری په شپږمه د برېتانیا هغه لښکرچی زموږ له پاره ئی د غلامی پړی راوړی ؤ څوړسر له کابله روان شوه .

څرنګه چی دوی دخپل قول اوتعهد څخه بده استفاده کړی وه نودمبارزو افغانانو هغه قهردوی (۱۷) زره کسیزه لښکرد کابل او جلال آباد ترمنځ په دروکی داسی نیست اونابود کړ چی غیر له یو ډاکټر (برایډن) څخه بل نو یوهم ژوندی تردی خاوره و نه ؤړت .

ددی جګړی په نتیجه کی دانګلیسانو ۲۰زره کسه تلفات او(۲۰ملیونو) پونډه خساره کړی وه اود لندن دمرکزی اداری په قهر د ټو له هندوستان سیاسی واکمن «وایسرای» (لارډاکلینډ) برطرف او په عوض کی ئی هندوستان ته (لارډایلن برو) مقرر شو .

وجیزی :

تاریخ

تاریخ موږ ته دلوړو اشخاصو کارنامی فداکاری دلاوری اوملی غرور بیانوی او پدی وسیله سره زموږ روح قوی ساتی اود لوړ تیا وخواته ئی بیائی .

(اسمایلز)

فتح

په مرګ راضی کیدل وفتح ته رسیدل دی .

(ویکتورهوګو)

د نوی افغانستان هڅی

تر داخلی ایودوږ وروسته افغانستان چې سل کلنو جګړو او استعمارګرو د بدن شومه ورایستلې وه یوې خواته او په یوه لنډ دوران کې سقوی اغتشاش هغه څوچنده کم واک کړ.

د داخلی نظام بر یاد، اقتصادی پیکر پارچه پارچه، د نوی فرهنګ او معارف نوم نشان ورک او یوه توره تیاره خپره وه.

هغه مهال چې اعلیحضرت محمد نادر شاه پر سلطنت کښېنوست نو په لومړی سر کې د امنیت لپاره کار شروع شو او تر دې وروسته د عصری فرهنګ او معارف په ساحه کې کار روان شو.

په ۱۹۳۳ کې د طب پوهنځی تاسیس شوه شفاخانې جوړې شوې او د افغانستان لپاره اساسی قانون تدوین سو.

علمی انجمنونه تاسیس شوه، او د خارج سره تجارتی روابط قایم سوه.

د دغو نوو ترقیاتو پایلامو روانې وې چې اعلیحضرت محمد نادر شاه غازی په شهادت ورسیدی او د هغه خلف الصدق اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د افغانستان پر پاچاهی جلوس وفرمایه. پدې دوره کښې افغانستان د نړۍ په سیاسی جریاناتو کښې په علاقه برخه واخیستله او د ملګو جامعې ته ئې نمایندګان وټاکل شول.

د معارف په ساحه کې په ۱۹۳۸ کال د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په (۱۹۴۱) کال کښې د ساینس پوهنځی په (۱۹۴۲) کې د ادبیاتو پوهنځی تاسیس شول.

همدا رول په (۱۹۳۷) کښې میخانکی ښوونځی په ۱۹۳۹ کې د تجارت لیسه په ۱۹۴۳ منځنی دارالمعلمین په (۱۹۴۳) کې د کرهنې ښوونځی په (۱۹۴۴) کال کې د شرعی علومو مدرسه په (۱۹۵۱) کې د منځنی تخنیک ښوونځی تاسیس شو.

په (۱۹۴۶) کال کې چې د کابل پوهنتون دیوې ځان ته علمی مؤسسې په بڼه تاسیس شو نو یو شمیر اهغه علمی مؤسسات چې اکثریې پخوا لیسې او ښوونځی وه په پوهنتون سره ارتقا ورکول شول.

د کابل د پوهنتون په اړخ کې د ننګرهار پوهنتون تاسیس شو په هیواد کښې سربېره پر پخوانی اخبارو یو شمیر نور اخبارونه او مجلې او په هر ولایت کې مطبوعات تاسیس شول.

د افغانستان د سیندونو څخه د استفادې په منظور یو شمیر بندونه جوړ شوه، چې مشهورترین د کجکی ارغنداب او درونتې په نامه یاد یږي د پیناد استحصال لپاره نوی فابریکې په کار واچول شوې.

په هیواد کې پخې لارې جوړې شوې چې په هغو باندې اسفالت شو ولاروکې د کندهار او تورغنډی، کابل او کندهار، کندهار سپین بولدک کابل او جلال آباد سړک او د سالنګ لویه لار هره یوه ځان ته اقتصادی او اجتماعی ارزښتونه لري.

په هیواد کې د الوتکو میدانونه جوړ شول او هوایی سرویسونه په داخل او خارج کې په کار واچول شول.

په خارجي لحاظ زموږ پالیسي پر بي طرفي ودریده چي د نړۍ د ټولو هیوادوالو منظور نظر واقع شوه .

افغانستان په ۱۹۴۶ کي د ملګرو ملتو غړي سو او د صلح د یو علاقمند هیواد په حیث د افغانستان نماینده عبدالرحمن د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلي د تیر اجلاس د عمومي رئیس په حیث وټاکل شو .

د بانډونګ په اسیایي او افریقایي جرګه او د بلګراډ او قاهري د بي طرفو هیوادونو په کنفرانسو کي یي ګډون وکړ .

د افغانستان پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د دوستو هیوادو سره د نیکو روابطو د پالنې په لړ کښي یو شمیر اسیایي اروپایي افریقایي او امریکایي هیواد ته مسافرت وکړ او د هغو هیوادو مشران افغانستان ته د ښاغلو میلمنو په حیث راغلل .

زموږ کلتوري او اقتصادي هئتونه نورو دوستو هیوادو ته ولاړل او د هغو هیوادو د غه رنګه هئتونه افغانستان ته راغلل او د دي په نتیجه کي یو شمیر د دوستي تړونونه وسوه چي هغه د افغانستان او هیوادونو د دوستي د پایو او د جهاني صلح د استحکام په عواملو کي مفیده اغیزه کړیده د افغانستان د نوي ترقیاتو په عصر کي د اعلیحضرت همایوني په نیکه اراده د افغانستان نوي اساسي قانون تدوین او د ثلاثه قواؤ تفکیک عملي شو .

د دي اساسي قانون په تحت کي د ډیموکراتیک نظام د استواري د پاره د هیواد منورینو او ځوانانو ته د مدنیت چانس ښه میسر شو .

ښاغلي (فنا) «د فدا» ټاکنه

تابوت او ډولي

د آسمان زړه تک شین ؤ .

ستور وخندل او نڅیدل .

لمر دیوه لوی بدلون شاهد ؤ .

د ایشیا په زړه کي، هلته چي د سیندونو په شاوخوا کي هم د غیرت څپي موجونه وهل او د غرونو په دروکي د مېړانې او وطن پرستۍ غرور او جذبه روزګار ته د خاطراتو نه ډک درسونه ورکول، زماني د تاریخ یوه مهمه پاڼه واړوله .

توپک واریدل او د ډولونو آواز د غرونو غوږونه کاڼه کړي وو .

ډیر خلک راټول شوي وو .

په همدي ورځ له یوه کوره یوه جنازه وایستل سوه او همدي کور ته یوه ډولي راغله .

جنازه د غم او ډولي د خوشحالۍ وه .

د دې جنازې د ایستلو او د دي ناوي د ولور د پاره ډېرو ځلمو سرونه ژوند او وینې قربان کړل .

جنازه چي د استعمار منحوس تابوت ؤ د نابودي ګرستان کي ښخ شو .

له ډولي نه د ازادي ناوي راکښته شوه او د وطن د مور په کور کي د اتحاد، اتفاق، مېړانې او توري سره واده شوه .

د وطن مور توري، سرې او زرغوني جامي واغوستي او د افغان ولس د نوي نسل بچیانو ته یي د خپلواکۍ مقدس زیري او سوغات ورکړه .



افغان مجاهد وایی

لېمه پر ژرګو مخ پر اغز و ږدم
اړخ پر کړوړو څنګ پر مېخو ږدم

پر لمبو نجتم د کږدۍ ستنی
سر پر سکرو ټو تن پر لمبو ږدم

پر څړۍ اخلم د ګرزو واری
ټټر پر غشو زړه پر نیزو ږدم

ګولۍ ته پر انځم د ګرېوان غوټی
خونړۍ توری پر ښار ګو ږدم

لاس ننه باسم د پړانګ په زامو
پښه پر څپړو د شنو زمرو ږدم

مرلۍ وهمه افعی ښا مار ته
مرۍ د بوری پېیلی پر پښو ږدم

غاړه ور وړمه د دار رسۍ ته
یو ګام پر مړو بل پر ژوندو ږدم

د ټانکو مخ ته غورځوم ورو ڼه
د زویو زړونه د توپ پر خولو ږدم

زړه ته راتیری در وږو مه
تر ژوند راګرانی پر سرو اورو ږدم

مرګ ته ور ځغلم اجل را نیسم
بلا را بولم غم پر لیمو ږدم

مګر دا هیله له مانه مه کړه
چی پردی واک ته سر پر سجدو ږدم

څلو ریځه

ژوندون د غلامانو چا پر ژوندو شمیرلی دی نه دی
دا ځکه چی مریو کښی چا با دار لیدلی نه دی
دبل تر اثر لاندی چی څوک وی هغه مریی دی
«هوتک» وای مدرسه کښی می دا درس ویلی ښه دی

ښاغلی غلام نبی [هوتک]

ښاغلی محمد ګل [نوری]

استقلال مو د ملت د تندی خال دی

زه بیده په خواږه خوب وم د سهار — خبر نه وم د دنیا په کار و بار
پر ما ږغ شو څله پروت ئی په خمار — ما هم سر ژر را اوچت کی په تلوار
چی کتل می یو نیکه وویل می پلار

نیکه ووی ای زما د باغ نهاله — راغلی زه چی ځان خبر کړم ستا له حاله
ما خبر کړه په ښه شان له خپل احواله — څه دی حال دی ئی خوا بدی که خوشحاله
پر آرام یی یا اخته یی په جنجاله

پلار می وویل څه احوال مو د ملت دی؟ — اتفاق، بی اتفاقی که اخوت دی؟
په تکلیف که په زحمت که په راحت دی؟ — ترقی که تنزل که په ذلت دی؟
راته وایه ای زویکه څه حالت دی؟

ماوی ای زما بابك او نیکه جانه — شکر، شکریم خوشحاله هم خندانه
زموږ ملت ټول پر لار دی روانه — په خوله یو په زړه کی یو په ټینګ ایمانه
هیله سته چی ترقی کړی تر آسمانه

شکر شکر پر وطن مو قراری ده — هم پر لویو او وړو ښه آرامی ده
سر له سره پر موږ ښه ښګلوی ده — یو د بله مو نن ډېره خوا خوږی ده
زما پر ورور د ورور پر ما مهربانی ده

نه پر چا باندی د چا منت باری سته — نه څه غم نه څه زحمت نه څه خواری سته
نه پر موږ باندی د بل چا باداری سته — نه مو بغض نه عناد نه شیطانی سته
ټوله یو یو نه زموږ بی اتفاقی سته

پلار وی ټول دا برکت د استقلال دی — چی وتاسی ته درکړی ذالجلال دی
استقلال مو د ملت د تندی خال دی — د دولت او د حکومت ښایست جمال دی
بیغمی مو چی په آل او په عیال دی

استقلال دی موږ په وینو درګټلی — هسی نه چی مفت وړ یا تاسی موندلی
بیا له پسه مو وتاسی ته سپارلی — بیا مو ښو مړو عسکرو د رساتلی
بیا زلمی پا چا وتاسی ته روزلی

ای زما دستو ګو تور د زړګی سر — و خپل وروڼو ته ووایه زموږ خبر
ځان معلوم کی په دنیا کی لکه لمر — ښایسته کی ځان په عقل په هنر
نن له سیا له سره ځان کی برابر

یو مو دین یو مو مذهب یو مو ایمان دی — یو الله یو مو پیشوا یو مو قرآن ادی
یو مو قول یو مو عهد یو مو وجدان دی — یو ملت یو مو دولت یو مو سلطان دی
یو وطن یو مو مسکن افغانستان دی

په نصیب چی مو دا ښکلی آزادی ده

نن ز مو ږ د ملی جشن خوشحالی ده
د پښتون د هر یو فر د سر فرازی ده
کلک به ساتو ماهیت د دغی و رځی
د پښتون په ټول کهول دا ضروری ده
خدای (ج) دی ولری زموږ دا خوشحالی تل
د ې آرزو کی می مدام رب ته زاری ده
درنګ په درنګ نوی سازونه ټکورونه
په هر کنج کنار، میلی نغمه‌خوانی ده
لاس ګریوان ته اچوو شکر و باسو
په نصیب چی مو دا ښکلی آزادی ده
دا د هغه شهیدانو برکت دی
چی یی کړی په‌دی خاوری سربازی ده
موږ په ویاړ باندی‌دهغوی کوو جشنونه
دا یی پاتی په میراث زموږ نښانی ده
اروا حانو ته یی استوو در دونه
چی زموږ په برخه کړی کامیابی ده
نن هرچا ته موږ په هسکو سترګو ګورو
برا بره مو هر چا سره سیالی ده
له سهاره تر ماښامه له ماښام تر سهاره
د «سنګر» دزړه نه لری دغم سودا او پریشانی ده

«سنګر»

نن له خپله پاك وجدان سره قسم کړی
پخپل علم و په عرفان مو ځان آدم کړی
په کمال کی ځان له نورو سره سم کړی
دخپل ځان ښایست په توره په قلم کړی
لومنی او خودبنی له ځانه کم کړی
بیا ویل ئې اې زما ګله (نوری !)
در کوو دا ستقلال مبارکی
مبارك موسه اختر دخپلوا کی !
وځښتن و ته تل دا کوی زاری
تل دی وی افغانستان او خپلواکی

ښاغلی « الفت »

آزادی ددوی په خټه کی ښکاره وه

لمر و لېدلی و تیاره پـه خپریدو وه
د ماښـا م تور ه پرده په غوړیـدو وه
د و طن په یوه غر ه کښی ګرزیـدم زه
له فطرت سره په زړه کښی ږغیدم زه
ځای په ځای دغره په سر کښی وکورو نه
پکښی بل شوه د ماښام تاوده ا و رونـه
د هرکو ر سیمه د ر نـه معلومیـد له
دغـیرت وږمـه هـر لور ته چلیدلـه
د هیبت یـوه عجیبـه منـظره وه
هیبتنا کـه ا و مهیبه نـندا ر ه وه
د او ګړ ی د هـم د غه غر ه ز ا من و
ددې غره په هره ګـټه د و ی مین و
دوی لوی شوی و د ګټو په ځانګو کښی
په آزاده ښـه هوا د غرو سـرو کښی
ورته ټیټ ښکار یده هرڅه له خپل ځانه
هسک یی نه بالـه هیڅ شی بهله آسمانه
سادګی کی خاوندان د لوی و قا ر و
یو په بل یـی اعتمـاد او اعتبـار و
هیڅ خبر د اسا ر ت په مفهوم نـه و
پکښی هیڅ سړی ظالم او مظلوم نه و
دوی له هر چا نه نزدی وشنه اسمان ته
ښه تابع و د خدای حکم او فرمان ته
بی له خدایه چاته نـه را ټیټیده دوی
په دنیا کی له بل چا نه ویریده دوی
په جهان کی یی نه خوف او نه څه ډارو
مشکلا تو سره جنګ د دوی روزګارو
دوی لیدلی و هر و خت خړ سیلابو نه
دوی مات کړی و د هـر چا ور میږو نه
آزادی ددوی په خټه کښی ښکاره وه
د آسمان سپوږمی د دوی په نندا ره وه
ښـه ځا نګو د آزاد ی دغـه هیـوادو
هر سړی یی په خپل عزم کی فرهادو

ښاغلی [زمریالی]

ترانه

زموږ وطن افغانستانه ! ته دی اوسی پر دنیا
ستا اولاد دی تل ژوندی وی هم دی لوړوی تر هر چا

ته جنت ئې سر پر مځکه هم ته زړه ئې دایشیا
تمدن دی پخوانی دی هم زانګو ئې د آریا
ته ښه مېنه د پښتون ئې هم ودوی ته لکه مور
که خپل سر تر تاجار نکړی دی افغان ته لوی پیغور
تا زموږ هغه زړه ور پلرونه مندی دی روزلی
چی ستا د پښتنو لوڼو شیدی ئې دی رودلی
هم تا ددوی د هغه تاریخ پاڼی دی ساتلی
چی دی توره او مېړانی په وار، وار دنیا منلی
ستا خاوره د غیرت ده لږ څه تا وور کړه وځان ته
هم بیا دی پخوانی هغه درب وښیه جهان ته
د ګرانی مینی ورونو ژر راځی چی سره ټول سو
لاسونه سره ور کړو په یو زړه په یوه بول سو
پر ځای مو وظیفه کړو هم په مینه یو کهول سو
جوهر بیا ور ښکاره کړو و دنیا ته د سر خول سو
ټاکلی وظیفی چی لوړ ټبر ته دی ننګو نه
په کړو کی که ضرورسی بایدور کړو خپل سرونه
مال وطن او نوم مو خپل دی څو چی وس مو وی د ځان
ولوړوالی تی یو زړه او لاس پلاس سو په ښه شان
زموږ اولاد به زموږ په پله باندی راځی لکه زمریان
هم را تلونکی وخت ډېر روڼ دی و وطن ته د افغان
ځکه غواړی هر افغان به خپل وطن ته افتخار
هم به کړی و ټول ټبر و سر لړی ته خپل سر جار
یو مو دین یو مو آئین یو مو خدای یو مو پیشوا دی
په وینه هسک یو یو هم د قوم مو خپل پاچا دی
نقصان ګټه مو یوه ده که څه شاه دی که ګدا دی
وطن ټبر که لوړ سی دا لوړ والی د هر چا دی
راځی چی په نامه د افغان ټوله راران سو
په ټینګه اسلامی عقیده لوړ پر کل جهان سو

د[ویران] لیکنه

خپلواکی د ځوانانو په وینو

ګټل کیږی

یوله پوهانو څخه وائي چی (خپلواکی هیڅکله زمونږ انتظار نلری بلکه موږ باید دهغه په حصول کی خپلی وینی توی کړو څو ئي لاس ته راولو، د تاریخ په هیڅ کرښه کی داخبره نسو پیدا کولای چی خپلواکی اوډیموکراسی دی چا ته وړیا پلاس ورغلی وی)

په رشتیا چی هر وخت دهر چا خپلواکی دښمن ګواودتن په وینو ګټل سوی وی اویوازی وینو تویولو داکار سرته رسولی وی .

پدې لویه نړی کی تر وینو مؤثره اواغیزه ناکه ماده بله نسو موندلای وینی پداخپل سوراوتوربخون رنګ سره کولایسی چی هم اورونه بل کړی اوهم اورونه مړه کړی ؤلسونه آزاد کړی اوهم ئي اسیر کړی مملکتونه وران کړی اوهم ئي ودان کړی .

کولای شي چی یونا توانه انسان دونه غښتلی کړی چی اندازه ئي څوك نسی لګولای او هم یوقوی انسان دونه ضعیفه کولای شی چی دچا فکر ورته عاجزه وی .

وینی هم جګړه راولی اوهم صلح هم ساه ورکونکی ده هم ساه اخیستونکی یعنی هم ژوند راولی هم مرګ .

کله تیښته راولی کله مقاومت: په انسانی دنیا کی تر وینی قیمتی ماده نه موندل کیږی دغه ماده په پیړیو، پیړیو دولسونو شرافت خوندی کوی اوکله ئي بیا په یوه شیبه ورباد وی داماده دجهان په تودو اوسړو کی له منځه ولاړه شی خو اثرات ئي باقی وی .

عاشقان په خپلو وینو عهدو پیمان کوی لویان په خپلو وینو لوړه کوی .

دغه وینی دی چی کله انقلابونه راولی ملتونه او أمتونه منځه وړی، ډېر ښکلی زامن له میندو څخه بیلوی خورا ډېری نازولی میرمنی له مېړو څخه جلا کوی ډېر عاشقان دقربانی محاذ ته ور- پوری وهی اوبی حسابه معشوقی ئي ترخاورو لاندی کړی دی ډېر دستایلو وړ کارونه ئي هم کړیدي که دی څوتورو اوسرو څاڅکو شر افتونه برباد کړی، اورونه یی بل کړی دی، سوځل وژل نړول او ماتول یی کړیدی قومونو ته یی نجات هم ورکړیدی زیری یی کړیدی دلګرمی ئي په وجود راوړیدی ډېری معشوقی ئي دعاشقانو غیږی ته ورو ستلی دی دخوشحالی جشنونه ؤ اخترونه ئي بخښلی دی تردی

ټولو چی باید انسانان په ونازیږی هغه (خپلواکی)

ده چی ؤلسونه ځنی برخور داره شوپدی .

داچی کله مظهر دشرافت او کله نمونه د ذلت کله نماینده دروښنا ئي کله سبب دظلمت وی هم زموږ سره وی هم زموږ د دښمنانو سره هم مایع ده

هم جامده هم روانه ده هم ولاړه هم توده ده هم یخه او

هم سره ده هم توره ده دا ټوله دوینی صفات دی .

زموږ وینی زموږ وجود دی او زموږ وجود زموږ وینی څوژوندی یو وینی به لرو څو وینی لرو ژوندی به یو .

کله چی دوینو تویولو ورځ راسی نوښه خبره داده چی دآزادی په لار

کی توی سی هلته بیا دا قضاوت کیدلای شی چی هدرنه دی تللی .

✡✡✡

لیکونکی: عبدالحلیم «ظریفی»

د خپلواکۍ په جګړه کی پیغله

دمازدیګر ژېړی پلوشی ورو، ورو دغروله لمنو څخه څوکوته پورته کیدی او د ګران هیواد غازیانو او شهیدانو ته ئې نن مازیګر

دخپلواکی سلام اچاوه او د هیواد هر کاڼی او بوټی، هری شاړی او ودانی ته ئې د نوی او خپلواک ژوند مبارکی ویله.

په هغه ځای کی چی د غازیانو او پرنګیانو نښته شوی وه او پرنګیانو دخپل استعمار توره پاڼه په چپ لاس دعمل نامی په توګه

واخیستله او د پښتون خوا لوړو غرونو ته ئې په ټیټو سترګو سلامونه اچول او بیا ئې شاورته راواړوله.

دهغو لوړو، لوړو غرونو په منځ کښی یوه څوارلس کلنه پیغله ړنګه بنګه پرته وه او تور اوربل ئې په سپین تندی ټالونه وهل په سپین

مخ ئې د مازدیګر ژېړی پلوشی ځلیدی او په سرو شونډو ئې خندا ګډ ېد له دجنت دمیوو په امید ئې سترګی خوماری او سره ورغلی وی.

د بېلتانه تروږمۍ د وصال امید ورته وموند او د ځوانی مرګه، مرګ بدل او عوض ته ئې لمسو له.

پوه نه شوم چی دا ښکلی پېغله په کوم ځای لګیدلی ده خو وېده غوندی ښکارېده او یوه درنه توره ئې پلاس کی وه چی دی پیغلی ښی لاس د توری په موټی ایښی ؤ او توره په وینو تکه سره شوی وه.

د غیرت او همت څپو په سر واخیستم او ددې پېغلی د همت تابلو سرسام او خیالانه غوندی کړم.

د وطن د مینی او محبت، احساساتو او د ردلوست می یوازی ددې ښکلی پېغلی له ښکلی جمال او نوی او تازه ځوانی څخه زده کاوه.

دلمر پلوشی ورو، ورو ټیټېدی او د شهیدی پېغلی له سپین مخ څخه ېی دخپلواکی او د هیواد سره دوفا په نوم خدای پامانی واخیستله.

دماښام نری شمال سرشو او د شهیدانو د تاوده تن خولی ېی وچولی. شمال وار په وار اوچت شو او د فدا کاری پېغلی تور اوربل ېی په سپین تندی ونڅاوه

دخیال او تعجب څپو وړی وم چی ترشامی څه پی شو، مخ می ورواړاوه که ګورم چی یو لوړ او ښایسته ځوان را روان دی او لستوڼی ېی بلې

وهلی دی، څادر ېی په اوږه او تور بریتونه لری له غیری څخه ېی د بری او مېړانی نښی ښکاریدی او داسی اوچت، اوچت کیده لکه په چاپسی ګرزیده په ما ېی بږغ وکړ چی څوک ېی او څه کوې؟

ما ورته ځواب ورکړ:

دغیرت پلټونکی یم او دفداکارانو له غیرت نه په حساسه چیغه یو څو افسانی او نغمی جوړوم دغیرت او

همت په نوم، د ننګیالو په افتخار یو دیوان جوړوم او سوی او لغوړن لوګی خپلواک ځای ته لیږم.

زه دخبرو په حال کی وم او لوړ قامته ځوان ښه را نزدی شو او په څوارلس کلنه پیغله ېی سترګی ولګیدی، رنګ ېی والوت او ولړزیده وار خطا غوندی شو او په سترګو کښی ېی او ښکی ښکاره شوې، د جنون سمندر ډوب کړ او غمجن احساسات ئی ولوګیدلی

د ۱۴ کلنی پېغلی خواته راغی او د هغې په ټوپر ترته په وینو سره تړره ئې بنکل کړه.

«داخوښکاره خبره ده چې داسې غمجنې پېښې ځینې انسانان هیڅ نشی زغملی، نو زه ځکه بې اختیاره په ژړا سوم او ددې پېغلې دغیرت، همت فدا-کاری او قربانی په نوم مې په تن اور ولګېد».

دا پښتنه پېغله د استعمار په ګولۍ د خپلواکۍ د غوښتلو په ګناه د زړه په سر لګېدلی وه او د ګلې کمیس کوتونه ئې دویالو په شان له سر وو وینو څخه ډک بهېده.

ځوان ئې ددې ټپو ته کاته او له خولې ئې لاندې چیغې ووتلې:

خوږې او ګرانې خورې! تا د وطن د محبت په نوم ځان قربان او له پښتنو ځوانانو سره سمه د همت او مېړانې توره وتړله او له خپل ورور سره اوږه په اوږه وجنګېدې.

ستا د همت او غیرت مقابله به هیڅ پښتون نه هیروی او غلیم در فعت او استعمار تاریخ به ستا د پښتنې شهامت په زور تل ترتله نسکور او شرمنده وي، تا هغه زورور استعمار چلوونکی دښمن مات کړ چې دنړۍ د ډېرو انسانانو او ملتونو په ژوند ئې لوبې کولې او انسان ته ئې ددرد او انسانیت په سترګه نه کتل تا د هغه چا نوم په مځکه وویشت چې امپراطورۍ به ئې چلوله.

شهیدې خورکې!

کاش! چې ته خو نن شپه ژوندې وای او د خپلواکۍ د پتنګانو په ډله کې تا هم په افتخار سر پورته کړی وای او د ملې اټن په سر کې ګډېدلې وای ته مه خپه کېږه!

تا د هیواد راتلونکو زامنو ته کور ودان کړ، ستا دپاره به اوس په جنت کې لوړې منارې هر کلې وایي، ستا د شهادت اوښکلې ځوانې هر کلې به کوي او ستا په همت به د جنت حورې آفرین وایي.

ځوان ډېرې خبرې وکړې او پارېدلې احساسات ئې ډېرونخول چې د خبرو په ترڅ کې ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې دا پېغله ستا څه کیږې؟

ځوان جواب راکړ:

«داخو زما سکنې خور ده او له ماسره یو ځای د جهاد دپاره له کوره څخه راووته داخو د هغې اوږه په اوږه سره تلو او جنګ مو کاوه ولې نن راڅخه په مړدې ځای کې چې سخت اړو دوړو ورکه او داده چې اوس مې شهیده موندې کړه».

اوس نو په آسمان ستورې وځلېدل او د یوه لوړ غره له هغې خوانه د ډهول ږغ راتله چې غازیانو د خپلواکۍ دلومړۍ شپې هر کلې کاوه.

د ځنګله له وتوخته مو خو اوږده، اوږده لرګې راپرېکړل او بیا مو سره وتړل شهیدې پېغلې ته مو په لرګو برسېره څادر وپېر کړ او بیا مو په ور باندې وغوړه-وله برسېره مو ور باندې خپل زر، زرې شال وغوړاوه او ددې شهیدې جنازه مو دغازیانو په خوار او اخسته ماددې جنازه ډېره په هوس وړه او هر قدم به مې په خوشحالۍ او افتخار پورته کاوه زړه مې د احساساتو او هوس خزانه شو او ددې ښکلې پېغلې فداکارۍ ته حیران پاتې وم. اوچت، اوچت مو ګامونه پورته کول تر څو چې مطلوب ځای ته ورسېدو.

مو د جنازه کښته کړه، او غازیان ور باندې راټول سول، د خپلواکۍ د ګلونو

نور په ۲۵ مخ کې

د خندا !!

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

د ښکلا اغزی

وروسته له هغه چی د انگلستان مشهور شاعر «میلتون» پروند سو، نو دیوې ښکلی پېغلی سره ئې واده وکړ. یوه ورځ ئې یوه دوست ورته وویل:

ښځه دی دیوې درختی دگل په شان ښکلی ده.

شاعر ورته وویل: که څنه هم زه نه وینم لېکن کولای سم چی ستاسی خبره تائید کړم ځکه چی دغه گل ځوزان زیاتره وخت ماته آزار رارسوی.

✡✡✡

نوی موضوع

یو شاعر وبل شاعر ته وویل: ډېر ډېرمی زړه راته وایې چی راسه دشعر ویلو دپاره یوه داسی موضوع پیدا کړه چی تر اوسه هیچا په هغه موضوع کی نه شعر ویلی، اونه ئې تردې وروسته ووایی.

ملگری شاعر ئې ورته وویل: چی دا خو آسانه خبره ده دځان په ستاینه کی یوه قصیده جوړه کړه دایی نوی موضوع !.

دزړه اوځوان خوراك

یو سپین ږیری اویو ځوان پریوه سترخوان سره ناست دواړو ژړل. وختی چی له سپین ږیری څخه پوښتنه وسوه چی پر څه ژاړې؟

هغه وویل: څرنگه چی زه غاښونه نه لرم نو هرشی چی موجود دی هغه ټوله په ځوان را څخه وخوری.

او بیا چی له ځوان څخه د ژړا علت وپوښتل سو هغه وویل: له دې امله چی دغه سپین ږیری غاښونه نه لری، هره ګوله ژوندی، ژوندی تېروی اوزه نه سوای پسی رسېدلای.

✡✡✡

د جنایت اوعدالت توپیر

یوه ورځ «برنارډشا» دنړی مشهور لیکوال د جنایت اوعدالت په باره کی وویل:

کله چی انسان یو ببر مړ کړی د هغه نوم قوت، شجاعت او دلاوری ایږدی. لېکن که ببر انسان مړ کړ نو هغه وحشت او سړی خور بولی.

دادی د بشر په قانون کی د جنایت او عدالت اختلاف.

✡✡✡

معلم اوشاگرد

د حساب معلم له یو شاگرد څخه پوښتنه وکړه

چې که یوه ښځه په یوه ورځ یو کمیس جوړ کړی، نو دوې ښځې به په دوو ورځو جوړې کالی تیار کړی؟

شاګرد جواب ورکړ چې نیم کمیس.

معلم ورته وویل: داسې معلومیږی چې خپل زده درسونه دی هېر، اود حساب د علم قاعدې هم نه پېژنې؟!

شاګرد وویل: ښه پوهېږم لېکن داهم ښه ترا راته معلومه ده کله چې دوې ښځې په یوه کار کې سره لګیاوی دومره سره ګډې، او په صحبت اخته وی چې په دوو ورځو کې به نیم کمیس هم جوړ نه کړای سی.

✡❀✡

قلم، کاغذ

یوسړی ښځه غوښتی وه، اوچې د واده په پنځمه ئې زوی پیدا سو، نو دستی ئې پلار بازارته تللی قلم، کاغذ اومشوانۍ ئې رانیولی کورته ئې راوړل.

ښځې ئې پوښتنه ځنې وکړه: چې داخه شی اوخه په کوې؟

سړی ورته وویل: یو هلک چې دمور ترواده پنځه ورځې وروسته پیدا سی نو هغه باید د زېږېدو په دریمه ورځ مکتب ته هم ولاړ سی.

✡❀✡

دعزت مرګ

څرنګه چې پوهېږو، لوی فیلسوف «سقراط» ئې د واهیا تو له امله په مرګ محکوم کړ. نو کله چې ده ته خبر ورسېد، په ډېره خوښی او خندا سره ئې استقبال کړ.

کومه ورځ چې د حکم د اجرا مامور ده ته وویل: چې د مرګ د پاره ځان تیار کړه.

نو سقراط جواب ورکړ چې: زه په خپل ټول عمر کې د مرګ د پاره تیار وم.

جلاد پوښتنه وکړه چې: په څه سبب؟

سقراط وویل: ما په خپل ژوند کې نه په پټه او نه په ښکاره چاته بد رسولی دی. له همدې سببه کولای سم چې په آرام وجدان «مرګ» استقبال کړم.

✡❀✡

دحقیقت ښه

یوه ورځ سکندر د خپل وخت د خلکو له فساد او منافقت څخه ارسطو ته شکایت کړی او له هغه څخه ئې یو داسې کومك وغوښت چې سکندر وکولای سی چې خپل صمیمی او صادق خلک له منافقو او دوه مخو خلکو څخه بېل، او وپېژنی.

ارسطو ورته وویل چې: یو لوی مجلس جوړ او ګرده خلک در وغواړه، اوهلته ټولو ته امر وکړه چې په هغه مجلس کې آسمانی کتاب ووایی په همدې رقم به هغه خلک چې انسان نما او «دیو» صورت دی د حقیقت ارو بدو څخه په تنګ شی، اوچې غوښونه ئې د حقیقت دارو بدو طاقت نه لری ژر به ئې وضع، حرکات او ویناوی بدلی شی، درته ښکاره به سی.

✡❀✡

طالب او اوباز

یو طالب او اوباز په یوه کوچنۍ کښتۍ کې سره ناست، او په سیند کې ئې څه اندازه لاروهلی وه، طالب له اوباز څخه پوښتنه وکړه آیا د «نحوی» علم دی خلاص کړیدی؟

اوباز جواب ورکړ: چې یه.

طالب ورته وویل: په رشتیا پوه سه چې نیم عمر دی عبث تېر سویدی. څه قدر چې نور ولاړل سیند طوفانی سو، او غږ نلری، غونډۍ څپې ئې په رقص راوستلی، طالب خوراخوا بدی

او بېله کومه شکه ئې ځان په خطر کې لیدی. نو اوباز له طالب څخه پوښتنه وکړه آیا د «اوبازی» علم دی زده دی؟

طالب جواب ورکړ چې یه.

اوباز ورته وویل: په رشتیا پوه سه چې ټول عمر دی عبث تېر سوی دی.

✡✡✡

د کور مصیبت

یوه ورځ دیو ملنګ ماینه دخپل همسایه دیوه مصیبت د تسلی دپاره ورتله، ملنګ په مخه ورغی او پوښتنه ئې وکړه چې: چیری ځی؟

ماینی ئې ورته وویل: چې د تسلی دپاره دهمسایه کره ځم.

ملنګ ورته وویل: د کور د کوچنیانو دپاره دی څه غذا مذا برابره کړیده که یه؟

ماینی ورته وویل: څرنګه چې په کور کې نه مالګه، نه اوړه، نه بوټی او نه نور شیان وه نو په څه شی می غذا ورتیاره کړی وای؟

ملنګ په قهر ورته وویل: وختی چې مصیبت زموږ په خپل کور کې وی نو ته بیا پرځه د همسایه د تسلی دپاره روانه یی؟؟!.

✡✡✡

شوخی

یوه ورځ یوسړی دخپلی ښځی او لور سره په الوتکه کې سپاره شول چې له یوه ښار څخه بل ښار ته ولاړ سی.

دسفر په ترځ کې ئې یو لوټ له الوتکې څخه دباندی وغورځوی.

ښځی ئې ورته وویل: چې دا پیسه دی دڅه لپاره وغورځوله؟

سړی ورته وویل: ددې دپاره چې یولاروی ئې ومومی او په خوشاله سی.

ښځی ئې ورته وویل: چې دوه لوټه ورواچوه چې دوه کسه په خوشاله سی.

سړی یو بل لوټ هم له الوتکې څخه دباندی وغورځاوه.

تردې وروسته ئې لور ورته وویل: چې بابکه! دریم لوټ هم وروغورځوه چې درې کسه په خوشاله سی.

طیاره وان چې دغو خبرواترو ته ښه غوږ نیولی ؤ اتفاقاً دده د ډېرو سختو مخالفینو څخه ؤ ناڅاپه ئې پررا ږغ کړه:

ښاغلی!

لطفاً ځان خپله ارتاو کړه چې ډېر خلک خوشاله کړې.

سړی په جواب کې بېله دې چې کټ په خنداشو، بل جواب ئې ورنه کړ.

د ژوندانه لار

علم یو داسی لوی نعمت دی چې په ژوندانه کې دافتخار تاج، او له مرګ نه وروسته یو روڼ یادګار به وی. حضرت علی [ك]

✡✡✡

که سره راغونډ شو، دا آغاز دی، که سره را غونډ پاتی شو دا پرمختګ دی او که په ګډه مو سره کار وکړ دا بریالیتوب دی.

✡✡✡

دپخوا وختو ډېر ښه شیان خوښ کړی او دهغوی پر مخ د آینده بنسټ کښېږدی.

✡✡✡

د زیاتو خلکو د ګناهکاری سبب دا نه دی چې پخپله ئې کومه ګناه کړی وی، بلکې موجب ئې دادی چې نورو ته ئې د ګناه کولو موقع ورکړی وی. [ارسطو]

د فدا محمد [خواری کښ] لیکنه

د نن ورځی فلسفی ته

یوه نوی کتنه

چی فلسفه موپر دوو عمومی برخوو ویشل (ایډیالیزم او ماټریالیزم) ماټریالیزم جهان عین واقعیت او ایډیالیزم ئې د روحی او فکری فعالیت محصول ګڼی خو پدی سوال کی چی کوم فکر او شعور جهان پیدا کړی ایډیالستان (خیال پرست فیلسوفان) دوه ډوله جواب راکوی.

ذهنی ایډیالستان (سوبجکټیف ایډیالیزم والا) وایی چی نړۍ او کائنات د انسانی مغز او ذهن محصول دی که نه هیڅ شی د باندنی او عینی واقعیت نه لری چی لوی پیشوائی هماغه (اسقف برکلی) مشهور انګلیسی فیلسوف دی چی دده په عقیده ذهن او تصور د ټول عینی واقعیت بنسټ دی که موږ دی فیلسوف ته ووایو چی څرنګه جهان وجود نه لری.

زه، زما مور، پلار، دوستان وطن او ډول ډول فابریکی جاردی سماوی او مځکنی اجرام او اجسام څه شی دی.

دی به جواب راکړی چی نه هیڅ نسته دا ته فکر کوی، که زه ووایم چی ناروغه یم او یا په اور وسولم بیا هم وایی دا ته فکر کوی خو هرڅه زما فکر بولی او تردی لوړ و هیڅ شی ته عقیده نه لری خو باید هیره نه سی چی دې ښاغلی (ذهنی ایډیالستان) د دغو مره غیر عملی فکر سره، سره ډېر دلایل لری او د دوی سره مبارزه څه اسانه کار نه دی.

برکلی او نور طرفداران ئې د خپلی نظر ئې د اثبات د پاره داسی مثال راوړی.

مثلاً:- دغه مجله چی تاسی اوس لولی او یو موجود شی ئې ګڼی موږ د څه شی څخه پیژنو د دغه جسم (مجلی) د طول (اوږدوالی) عرض (پسور) او ضخامت (پنډوالی) څخه پیژنو او د رنګ (سور، تور، شین، او داسی نور) که نه نو نور څه خو نلری.

دغه ټوله خواص هر یو جلا جلا را اخلی.

(مثلا د مجلی طول) وایی: که یو انسان ورته وګوری نو موړی مجله په یوه ټاکلی اندازه اوږده وینی خو که چنګښه ورته وګوری د انسان په نسبت ئې ډېر اوږده وینی او ومیږی ته بیا د یوه غره په ډول اوږده معلومیږی.

اوس نو د انسان، میږی او چونګښی یعنی کوم یو صحیح دی.

دا ډول پسور یعنی برئې هم دغسی وګڼه پنډوالی ئې هم انسان ته یوه اندازه وفیل ته بیخی لږ او ویوه میږی ته ډېر زیات دی دا نه شوه معلومه چی کوم یو صحیح دی د رنګ په باره کی (د هر شی) د وړی وایی:-

(د ۲۱ مخ پاتی برخه)

هغه غونچی ئې په سینه ور کیښودی چی د دی له وینو ئې رنګ نیولی ؤ، ما د یوه سپین ږیری څخه پوښتنه وکړه چی! «دا فدا کاره پېغله څه نومیده؟»

سپین ږیری وویل! «دا وطن پالونکی (رڼا) نومېده خو آرمان چی مرګی ټیټه کړه».

د خپلواکی او نیکمرغه ژوند د پاره (رڼا) خپل ټول امید نه د اجل په لومو بندل کړل.

(پای)

رنګ هم نسته مثلا دغه رنګ (مثلا) شنه مجله) انسان شنه وینی خو که عینکی ورته کښیږدو بیا ئې ژړ وینو دوی وایی :-

چی د بیلو، بیلو حیوانا تو دستر ګو ساختمان مختلف دی نو ځکه یوتا کلی جسم هم په جلا، جلا او قسم، قسم رنګو سره وینی دلته ئې رنګ هم نسو معلوم او پر یوه اعتماد نسته .

کرار کرار دیوه شی ټول خواص (طول، عرض، ضخامت، رنګ، درونده والی او داسی نور یو یو نفی کوی

او په پای کی دی نتیجی ته رسیږی چی هیڅ شی وجود نه لری او ټول شیان زموږ دفکر او ذهن محصول دی .

خو موږ داخبری داسی ردوو چی اصلی خبره د موجودا تو پر خواصو او

څرګوالی باندی نده بلکه اساسی مسئله پخپله دکا ئناتو وجود دی چی په عینی ډول وجود لری .

ځکه که چیری مادی واقعیت او حقیقی موجو دات نه وای زموږ پر حواسو څه شی تاثیر اچاوه او زموږ حواس کوم شی را متأثر کول .

جهان په هر ډول چی وی وی به خو اخبره دا ده چی موجود دی او موږ ئې دیوه عینی واقعیت په حیث پیژنو او پر دی خبره باندی

اعتراف کو و چی ټول ذهنی فعا لیتونه او افکار، ټولی فکری او معنوی پدیدی او جریانات د مادی او عینی دنیا څخه را پیدا او اصلی بنسټ ئې همدادی .

بله ډله ایډیالستان بیا جهان دیوه عینی واقعیت څخه پیدا یو تا کلی عینی روح فکر او معنی دمادی جهان بنسټ بولی چی په

بیلو بیلو فلسفی سیستمو کښی د (مطلقی ایډیا) (جهان ارادی) او داسی نورو په نامه سره یادیږی خو هغه څه چی دا دواړه فلسفی

سیستمو نه سره تړی هغه دواړو رقمو ایډیالیزم والی دی یعنی ترمادی جهان ومعنوی جهان ته په دمخه والی قایلیدل دی .

دذهنی ایډیالستانو په عقیده موږ جهان نه پیژنو مګر هغه څه چی پیژنو انسانی احساسات او افکار دی اما عینی ایډیالستان وایی چی :-

یا یوازی ایډ، او (جهانی روح) دی .

پوازی داخبره هیره نکړو چی ذهنی ایډیالیزم ته (او بجکتیف ایډیالیزم) او یا انفسی ایډیالیزم هم وایی او

عینی ایډیالیزم سوبجکتیف ایډیالیزم او یا افاقی ایډیالیزم هم بلل کیږی .

خو په هر صورت ایډیالیزم یو زوړ فلسفی سیستم دی چی علم او عملی فعالیت ئې غلط والی ثابت کړی دی .

هره ورځ چی انسانان د علم او تخنیک د پرمختګ پر لوری یو ګام اخلی وسپوږمۍ ته خیژی د اتم زړه لیری کوی او نوی، نوی انکشافات منځ ته راځی .

دا ټوله هر یو په خپل وار د ایډیالیزم پر پیکر باندی یوه لویه ضربه وارده او په اصطلاح د بطلان خط پر کشی و .

نن ورځ د ځینو متعصبو انسانانو څخه پرته چی دمنځنی پیړی خرافاتو ئې په ذهن کی ځای نیولی دی .

نور څوک نه حاضریږی چی ایډیالیزم ی ورته تسلیم کړی .

(نور بیا)

وجیزه :

دخپلواکی فکر دظلم او ستم همزولی دی او د آزادی غوښتلو فکر همیشه دظالمانو داستبداد او شکنجی څخه را زیږیدلی دی .

(دوګلاس)

د آزادی درس

لویه برتانیه چی ترلومړی عمومی بین المللی جنګ وروسته ئې د وارسای معاهده دمغلوب المان سره دیو فاتح هیواد په حیث امضا کړه او خپله امپراطوری ئې د لوېدیځه ترختیځه پوری پلنه کړی وه، دومره دغرور او تکبر په میو مست وه چی په هیچا کی ئې دمقابلی او مبارزې توان نه لیدی .

کله چی د افغان پر آزادی مین هیواد ځلمیانو له خوا دخپل پوه رشید او سرباز عسکر اعلیحضرت

محمد نادرشاه په قیادت د خپلواکی اعلان وکړ .

نو لویی برتانیی چی د افغان ولس دفطری استعداد او د آزادی سره له سرشاره عشق څخه که څه هم بی خبره

نه وه او د خپل جهانی قوت په زور مسته وه غوښتل ئی چی زموږ دغه د آزادی د حق آواز ته په داسی سخته

ضربه جواب ووایی چی نه یوازی موږ له دغه ملی عزم

څخه منکر کړی بلکی دخپلو آسیایی او افریقایی نورو

هیوادونو پاره دعبرت درس سی ، نو ځکه ئې دا اراده

وکړه چی د افغانستان پایتخت کابل د دریم پلا

د پاره بیا اشغال کړی نو ئې لوی او قوی لښکر چی د

بلوچستانه ترچترالـه پوری د زرو میلو په اوږدوالی د ۳۳ نامتو جنرالانو په مشری پا افغانستان باندی دحملی تیاری ونیوی .

دوی پدې جنګ کی دلومړی ځل لپاره پا آسیا کی له الوتکو څخه کار واخیستی ، خو پښتنی ملی آهنی عزم اودوطن بهساری

عشق دنړی ددې لویی امپراطوری او د لومړی جنګ د فاتح داټول

خیال پلونه ورشنډ کړل او د نړی دغه لوی امپریالستی قوت د

پښتنو د آزادی خواهی د کلکی ارادې په مقابل کی د تسلیم سر کښېښود .

څرنګه چی په فزیک کی یو فارمول دی وایی : هرعکس العمل دمقابل قوې په تناسب

دی دغه رنګه لکه انګریزانو چی

په ټوله آسیا کی د پښتنو پرضد له سخت تشدد څخه کار واخیستی پښتنو هم دغه امپریالستی قهرمان

ته دټول آسیا په نسبت سخته ماتی ورکړه . او که داستعمار دزوال

تاریخ وپلټل سی غربی امپریالیزم داول وار دپاره دپښتونخوا د غرو له لمنو څخه پخپل قهقری رجعت شروع وکړه او داهغه رجعت

دی چی تر نن ورځی پوری دوام لری او نژدې دی چی د آسیا او افریقا له لویو قارو څخه استعمار خپل ګودړان ټول کړی .

نو پدې حساب که موږ دا دعوه وکړو چی افغانستان د استعمار پرضد مجادلو کی د نړی په تېره

بیا د آسیا په لویه قاره کی د آزادی قهرمان دی کومه مبالغه به نه وی .

موږ دغه د آزادیخواهی پاکه هیله یوازی د ځان دپاره نه لرو بلکی د نړی د ټولو هیوادو او قومونو

د پاره د خو دارادیت د حق په اساس د آزاد ژوند حق ته قایل یو او د نړی په

د نورو له افکارو څخه :

خپلواکی

خپلواکی دیوه سړی حق نه دی بلکه د ټولو مال دی .

(سپنسر)

✡ ✡ ✡

دخپلواکی مینه دانسان دژوند سره یوځای پیداشوی ده .

(درایدن)

✡ ✡ ✡

خپلواکی لکه نهالګی داسی دی که یوځل په مځکه کی کښېښودل شی اوخپلی نیلی ټینګی کړی بیاژر وده کوی .

(واشنګټون)

✡ ✡ ✡

پاك خدای(ج) ټولنی اوملتونه دخپلواکی په ورکولو نمانځی اوپه نه ورکولو ئې په عذا بوی .

(سویشن)

✡ ✡ ✡

اې خپلواکی ! په ډیر تأثر سره وایم چی بشر ستا سزا واره نه دی .

(تورګو)

✡ ✡ ✡

ماته خپلواکی راکړی یا مرګ .

(پل هاندی)

(۲۷مخ پاتی برخه)

هره ګوښه کی هر څوك چی ددغه حق دحاصلولو دپاره مجادله کوی زموږ ملاتړ ئې ترشادی .

اوس چی موږ د خپلی آزادی ۵۰ کالیزه تجلیلو و زړونه مو دهغو محکومو ولسونو په تیره بیا زموږ د پښتونستانی وروڼو سره دی چی دخپلی آزادی دپاره هلی ځلی کوی .

په پای کی وایم تل دی وی استقلال ژوندی دی وی زموږ معظم ټولواك .

آزاد دی وی محکوم پښتونستان .

هغه څوك چی د ځان ساتنی دپاره دخپلواکی څخه تیرشی دخپلواکی او سلامتی وړنه دی .

(فرانکلن)

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(SEPTEMBER)1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال شپږمه کڼه

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی کڼه ۹۶

د کندهار دولتی مطبعه

د خپلواکۍ څلۍ